**د استاد عبدالرحمن پژواک یو شعر**

**( وقت اخراج از پاکستان از جانب ضیا الحق حاکم آنروز پاکستان)**

## پام کوه چه رقیبان دی ریبار نشی

**په خندا ورته که خوله د پرهار نشی**
**مضحکه به ښه د توری گذار نشی**
**چه خزان راشی چمن واړه مړاو شی**
**څوک به نه وايي چه بیا به بهار نشی**
**ډیری شپی دی په هرچا باندی راغلی**
**چا ویلی دی چه بیا به سحار نشی**
**چه له خپل وطن نه څوک ژوندی وتلی**
**له پردی وطن نه تگ ورته عار نشی**
**د جهان خواری که ټول وربانډی وشی**
**د ایمان خاوند به هیڅ کله خوار نشی**
**بی مغزان به ارسطو او افلاطون شی**
**خو د مینې لیونی به هښیار نشی**
**که د زړه آشنا دیدار ته دی وی سترگی**
**پام کوه چه رقیبان دې رویبار نشی**
**بیا به نشم مهاجر به دې وطن کی**
**که پخپله دوی محتاج د انصار نشی**
**په "رحمان" او په "خوشحال" می سلام وایه**
**بیا گذر به ځما ددوی په مزار نشی**
**د مومند او د خټک د غږ پژواک یم**
**خو افغان می جگ ددوی له کوهسار نشی**

**شامی رود، پیښور، د می د میاشتی ۲۱، ۱۹۸۳ عیسوی کال**